د افغانستان اسلامي امارت

د چارو اداري لوی ریاست

د امارت چارو د انسجام معاونیت

۱۴۴۷ ـ ۳ ـ ۲۴    ۵۱۴۱

**ګڼه:** د کابینې او عالي کمېسیونونو چارو د انسجام ریاست    **نېټه:** / / ۱۴۴۷

---

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ درانه وزارت ته!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

**موضوع: د اقتصادي درانه کمېسیون د ۱۴۴۷هـق کال د لومړۍ ګڼې مصوبې د دریېمې پرېکړې د پلي کېدو غوښتنه؛**

د ا.ا.ا د اقتصادي درانه کمېسیون د ۲۷/۱/۱۴۴۷ نېټې (۱) ګڼه مصوبه، د ۱۷/۳/۱۴۴۷ نېټې (۴۶۲۳) ګڼه‌لیک په ترڅ کې ابلاغ شوه، د یادې مصوبې دریېمه پرېکړه چې داسې څرګندوالی لري: " **- د برادران مشتاق کروخي سوداګریز شرکت له لوري د غزني ولایت په مرکز کې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت پر ځمکه د سړې خونې او کارخانې جوړولو طرحه په اوږدمهاله اجاره تایید ده. - د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت دې له یاد شرکت سره د قرارداد مودې او د کلنۍ اجارې په تړاو تفاهم وکړي. - دا چې افغانستان یو کرنیز هېواد دی او کرنیز محصولات د هېواد د صادراتو لوړه کچه جوړوي او د هېوادوالو یوه ډېره لوړه سلنه دغه برخه کې په مستقیم او غیر مستقیم ډول په کار بوخت دي، خو د سړو خونو نشتون او د ګاونډیو هېوادونو له لوري د افغانستان په کرنیزو محصولاتو د موسمي تعرفې لوړول او د سوداګریزو لارو بندول ملي اقتصاد، کرنیز محصولات او بزګران له مالي زیانونو سره مخ کوي. له همدې امله، د دغو ستونزو د مخنیوي او د کرنیزو محصولاتو غوره مدیریت په موخه اقتصادي کمېسیون وړاندیز کوي چې، هر هغه شرکت یا انفرادي متشبث ته چې د سړو خونو په برخه کې پانګونه کوي پنځه کلن مالیاتي معافیت ورکړل شي.**" د کارې تړاو او په مصوبې کې د ځانګړو شویو تطبیق کوونکو مراجعو له مخې در ولېږل شوه، ترڅو د ټاکل شوي وخت په پام کې نیولو سره، چارې سمبال کړئ.

د یادې مصوبې پورتنۍ پرېکړه وکښل شوه، هیله ده چې د موضوع اړینوالي ته په کتو سره، د پرېکړې له منځپانګې سره سم کوټلي ګامونه اوچت او د کړنو پرمختګ او څرنګوالي راپور شریک کړئ، ترڅو په رڼا کې یې واکمنو مراجعو او د مشرتابه عالي مقام دفتر ته پر وخت ډاډ ورکړل شي. والسلام

**شیخ الحدیث نورالحق انور**

**د ا.ا.ا د چارو اداري لوی رئیس**

**کاپي:**

د ا.ا.ا د چارو اداري لوی ریاست اړوند د پانګونې اسانتیا ریاست د پام وړ؛

د برادران مشتاق کروخي سوداګریز درانه شرکت ته.

پته: د ا.ا.ا د چارو اداري لوی ریاست – مرمرینه ماڼۍ - کابل- افغانستان    website: www.aop.gov.af    Tel : 0202143882